

# هغه محصولات چې باید ستاسو د نوو زیږېدلو

# ماشومانو لپاره بېده ترې وشي

June 2024



## د خوب نا خوندي محصولات څه دي؟

ستاسو د ماشوم لپاره د خوب محصولاتو غوره کول خورا ډار ستړي کوونکي کېدی شي. د دې معلومول کېدای شي ګران وي چې کوم محصولات خوندي دي.

د 2021 کال د کوچنيو ماشومانو د خوندي خوب قانون د ماشومانو د خوب محصولاتو لپاره د خونديتوب نوي فدرالي معيارونه وټاکل. په پايله کې يې، ځينې پخوانی مشهور محصولات د ناخونديتوب له امله منع شوي. په داسې حال کې چې دا محصولات نور نه توليديږي، خو ممکن دا د کارول شويو شيانو پلورنځيو کې وي يا له لويو ماشومانو پاتې وي.

دا بروشر به د ماشومانو لپاره د خوب نا خوندي محصولاتو بياکتنه وکړي.

Pashto

## په دې اړه د نورو معلوماتو لپاره

چې څنګه مو ماشوم ته د خوب خوندي چاپېريال جوړ کړئ، دلته ورشئ

UVMHealth.org/SafeSleep

د امريکا د ماشومانو د روغتيا اکاډمي

HealthyChildren.org

د متحده ایالاتو د مصرف کوونکو د محصولاتو د خونديتوب کميسيون

CPSC.gov

د کوچني ماشوم خوندي خوب

SafeInfantSleep.org

Charlie’s Kids

CharliesKids.org

د زانګو ماشومان

CribsforKids.org

د نه تشريح شوي ژړا موده

PurpleCrying.info

که چيرې د خوب کڅوړه يا سوزنې باندې «وزن لرونکې» ليکلي وي، نو دا د امريکا د ماشومانو د روغتيا اکاډمی په وېنا نا خوندي دي او باید ويده ماشوم باندې يا ورسره نږدې ونه کارول شي.

# منع شوي محصولات

## د ماشومانو لپاره د خوب متمایل تختونه

د ماشومانو لپاره د خوب متمایل تختونه د سا بندېدلو ګواښ زیاتوي. په دغو محصولاتو کې، د ماشوم سر ممکن مخې ته ولوېږي او د هغه د هوا لارې بند کړي.

بېلګې - د Fisher Price د زنګېدلو او لوبې کولو د خوب کټ (Rock 'n Play Sleeper) - د Kids II څیرک د سپوږمۍ د رڼا زنګېدونکی د خوب کټ (Ingenuity Moonlight Rocking Sleeper) - د Kids II شرکت لخوا تولید شوی Bright Starts له لوبو وخت تر خوب وخت د ویده کېدلو تخت



## د تخت ګیر پیډونه

د زانګو تخت ګیر هغه مواد دي چې موخه یې د زانګو اړخونه پوښل دي. د زانګو تخت ګیرونه د سا بندېدو، د ګېرېدلو او د ستوني د زندۍ ګواښ زیاتوي.

بېلګې - د زانګو پېډ شوی تخت ګیر - ملاتړ شوی او نه ملاتړ شوی د وینیل بمپر ګارډ - د زانګو د عمودي چوکاټ پوښونه.

په بندیز کې د زانګو جالي دار استرونه شامل نه دي چې د ماشومانو ډاکټران یې د ستوني زندۍ کېدو او د ګېرېدلو د ګواښ په سبب منع کوي.



Pashto

# د خوب ناخوندي محصولات

په بازار کې ځیني محصولات له یوه کال څخه کم عمر لرونکو ماشومانو لپاره د خوندي خوب لپاره د امریکا د ماشومانو د روغتیا اکاډمۍ له لارښوونو سره سم نه دي. لاندې توکي باید ستاسو له توکو لیست څخه لرې وساتل شي او د خوب په وخت کې مو ماشوم ته نږدې نه وي.

## خالي ته ورته د ماشوم د خوب ځای او په مناسب حالت کې ساتونکي

دا چې د ځالو، ډاکونو یا ارام حالت کې ساتونکو په نامه یادېږي؛ له نرمو توکو جوړ شوي چې ماشوم ته د سا بندېدلو ګواښ رامنځته کوي.

بېلګې - Dock-A-Tot - د BabyNest د خوب تختونه - د Etsy په لاس جوړ شوي ارام حالت کې ساتونکي یا خالي.



## اوږد تنګ ډک بالښت (Bolster) او د مثلث شکل بالښت (Wedge) - ارام حالت کې ساتونکي

که ماشوم ورغښتي یا حرکت وکړي نو دا توکي د سا بندېدلو ګواښ رامنځته کوي او کولی شي ماشومان ګیر کړي که چیرې د زانګو څنډو ته نږدې کېښودل شي.

بېلګې - د Boppy Noggin لخوا تولید شوی د ځالي ورته د سر تکیه - د SwaddleMe لخوا تولید شوی ښه احساسات ورکوونکي ښوروونکی د زانګو مثلث شکل بالښت (GoodVibes Vibrating Crib Wedge)



## د ماشوم متمایلې تکیې او له پولیستیرین ډکې شوي کڅوړې یعني د خوب ځایونه

له پولیستیرین ډکې شوي کڅوړې یعني د خوب ځای او د فوم «اراموونکي (recliners)» نرم او لچک لرونکي وي، چې د سا بندېدلو ګواښ رامنځته کوي. دوی کولی شي ماشوم په زانګو کې بند پاتې کړي.

بېلګې - د Baby Matters لخوا تولید شوي Nap Nanny
Recliners - د BabyDelight لخوا تولید شوی Nestle Nook Comfort-Plush Infant Napper 2



## د زانګو په څیر ټال او وزن لرونکي د خوب تختونه، سوزني او کمبلې

د دغو محصولاتو خوندیتوب نه دی ازمول شوی. AAP والدینو او پالونکو ته له هغو محصولاتو ډډه کولو خبرداری ورکوي چې ازمول شوي نه وي.

بېلګې - د Crescent Womb لخوا تولید شوی د ماشوم د خوندیتوب بستر - د Little Lullaby لخوا تولید شوی د ماشومانو د للو کولو د زانګو په څیر ټال - د Nested Bean Zen لخوا تولید شوي وزن لرونکي سوزنۍ - د SensaCalm لخوا تولید شوي وزن لرونکي کمبلې.

**که ستاسو ماشوم د موټر سیټ، د ماشوم لېږدوونکي سټرولر، د لوبو زانګو، ماشوم لېږدوونکي یا سلینګ کې ویده شي؛ دوی د خوب کلک ځای ته یوسئ او ژر تر ژره یې د شا په تخته ویده کړئ.**